لعنت کوونکي کسان به د قيامت په ورځ نه شاهدان وي او نه شفاعت کوونکي

له ابو الدرداء -رضي الله عنه- څخه روايت دی چې: ما له رسول الله -صلى الله عليه وسلم- څخه اوريدلي دي چې ويل يې: «لعنت کوونکي کسان به د قيامت په ورځ نه شاهدان وي او نه شفاعت کوونکي».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

نبي صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې څوک پر هغه چا زيات لعنت وايي چې هغه يې مستحق نه وي، نو دی د دوو سزاګانو مستحق دی: لومړۍ دا چې: د قيامت په ورځ به پدې شاهدي نه ورکوي چې پېغمبرانو خپلو امتونو ته پېغام رسولی دی، او په دنيا کې به يې شاهدي نه قبلېږي، ځکه چې فاسق دی، او د الله په لار کې قربانېدل به يې نه نصيب کېږي. دويمه دا چې: د قيامت په ورځ به دی هغه مهال شفاعت نشي کولی؛ کله چې مؤمنان د خپلو هغو ورونو لپاره شفاعت کوي چې اور ته د داخلېدو پرېکړه يې شوې وي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5495